گڼه ۱۲
کال ۱۳۴۷

3/1969
۱۳۴۷
(۱۲) حوت

ځوانان

د کندهار د میرمنو ټولنه سربیره پردې چې د هیواد د ښځو د نهضت په پرمخ تګ کې ستر رول لوبوی د دې سیمې د میرمنو د طبقې د ذهنی تنویر او په کورنۍ چارو کې په تیره بیا د کوچینانو د روزنې په چارو کې د قدر وړ خدمتونه کړېدی

د دې ګڼې مضامین

زراعتی انکشاف. د پشتی ۲ مخ
مړه بنفشه. د پشتی ۳ مخ
د آریانا د واکدارانو ۱ مخ
د ګرمسېر جغرافیائی-
وضع ۵ «
مځکه په څه شکل ده ۹ «
پخوانی ورځی ۱۳ «
چې ډېوه مړه شی « «
د مور لفظ ۱۳ «
د ادب وږمې ۱۴ «
ګی دومو پاسان.. ۱۹ «
په نړۍ کې تر... ۱۹ «
د منی سیلۍ ۲۰ «
ادب د عقل په غیږ کې ۲۰ «
نوی علمی معلومات ۲۱ «
ماکس پلانک یا.. ۲۲ «
ټولی ژبی.. ۲۲ «
د سپینو زر و قندانۍ ۲۴ «
افغانی کوچیان ۲۶ «
پیاوړی او.. ۲۸ «

کندهار

د ۱۳۴۷ لمریز کال د کب میاشت

زراعتی

انکشاف

څرنګه چی د نړۍ پر مخ ټوله ژوی وغذا ته اړتیا لری او دا هغه انرژی ده چی د انسان د وجود په ساختمانی تشکل کی ستر تغیر او تحول راولی، نو دضرورت په لحاظ انسانانو ددغی غریضی له مخی وکړای سوای چی دغلو، دانو د انواعو د پیژندنی او د کرهڼی د تکامل او انکشاف په برخه کی په مختلفو طریقو باندی په مادی او معنوی لحاظ بری ومومی چی دلرغونی زمانی په ادوارو کښی ئې څرګند تحولونه په برخه شول چی نتیجه ئې اوس په اکثرو متمدنو او مخ پر انکشاف روانو هیوادو کی لیدل کیږی او هر هیواد کوښښ کوی چی پدغه برخه کی د نوو علومو د مختلفو طریقو له لاری په میکانیزه سیستم سره د ارتزاقی موادو د تولید دارزښتونو له مخی اقتصادی بنیاد ټینګ او خپل اقتصاد ددغی لاری ورځ په ورځ غښتلی کړی خو پدې کی شك نسته چی بالاخره به دا هاند ددې موجب وګرځی چی په میکانیزه شکل سره به دارتزاقی تولیداتو د ډېر تولید په اثر دغذائی موادو قلت له منځه ایسته شی. په اوسنی شرایطو کی زموږ په ګران هیواد کی چی نفوس ورځ په ورځ مخ پر زیاتیدو دی نو دغلو دانو د کرهڼی نتیجه دغوایو په اوږه د تولید د توان له مخی دډاډ وړ نه ده ځکه چی تردوو پنځه کلنو انکشافی پلانو مخکښی زموږ په هیواد کی زراعت په علمی او تخنیکی بڼه سره وده نه وه کړی او زموږ د بزګر طبقی داکثری برخی دژوندانه سطح دډاډ وړ نه وه او په ډېرو نامساعدو شرایطو کی ئې ژوند کاوه کله چی زموږ متبوعه حکومت د وګړو د آرامی د شاړو مځکو او دښتو د خړوبولو او همدارنګه د زراعتی تولیداتو د زیات والی په غرض د انکشافی پلانو په لړ کی په لویو پروژو لاس پوری کړنو ئې دهیواد په مختلفو برخو کی بندونه او داوبو لګولو لوی لوی کانالونه په اساسی ډول جوړ کړل چی علاوه پر پخوانیو ګروندګرو اوس نور په زرهاؤ بی کوره ناقلین په راحت ژوندور باندی کوی او همدارنګه ئې دعصر د مقتضا سره سم دعصری میکانیزی دراوستولو په غرض یو شمېر ټراکتورونه وازد کړل او د مناسبو شرایطو په مقابل کی ئې د کروندګرو په واك کی پریښودل چی دا کار نه یوازی د کرهڼی د تکامل او د زراعت د تخنیك سره د کروندګرو د آشنا کیدو په لاره کی ګټور اقدام ګڼل کیږی بلکه د مملکت د اقتصادی بنیاد مزی ئې هم غښتلی کړ څنګه چی زموږ ګران هیواد افغانستان داقلیمی شرایطو په لحاظ دزراعت له پاره د نړی تر ډېرو هیوادو مساعد دی نو لازمه ده چی دزمانی دایجاباتو سره سم دیوی پوهی جامعی په شان له دغه راکړل شوی نعمت څخه لکه څنګه چی ښائی دخپل مټ په قدرت په زړه پوری ګټه لاس ته راوړو څو وکړای شو چی په عمیق نظر د اجتماعی تحول اوږده پړاونه ترشا پریږدو او دګران هیواد د ارتقا لپاره نور هم دخدمت مصدر وګرزو.

«۴»

د آریانا د واکدارانو پخوانی سلسله

پر مختلفو علاقو لکه ډیلی، بنګال، پنجاب، دکن، ګجرات، مالوه مندو او نورو پاچهی او سلطنت کړیدی، چی هغه لوی پیاوړی ئې قطب الدین ایبك آرامشاه، شمس الدین التمش، رکن الدین، فیروزشاه، ملکه رضیه، معزالدین بهرام شاه، علاوالدین مسعود ناصرالدین، محمود شاه، غیاث الدین بلبن، معزالدین کیقباد، جلال الدین خلجی، علاءالدین خلجی، محمد تغلق، خضرخان نیازی بهلول لودی، سکندر لودی، او ابراهیم لودی دی، دغو حکمرانانو هر یوه پخپل وار سره د افغانانو کلتور او مدنیت په هند کی خپور کړی دی او د پښتنو د مدنیت د عظمت په لار کی ئې ستر ستر خدمتونه کړی دی.

✡✡✡

سوری شیر شاه

هغه مهال چی کورګانی بابر په ۹۴۲ھ کال د افغان لودی کورنۍ ته په ډیلی کی سقوط ورکی، نو د پښتنو شاهزاده ګانو د هند په هره ګوښه او شاوخوا کی د پښتنو د حکمرانۍ د ژوند دپاره ئې په کارلاس پوری کی، په دغه ترخ کی فرید خان سوری چی په شیرشاه سوره ئې شهرت ومیند میدان ته راووت، د افغان لیډرشف ئې په لاس کی ونیو، ده په دوو لویو تاریخی محاربو (چوسا او قنوج) کی همایون ته سخته ماتی ورکړل او ډیلی ئې ونیو (۹۴۷ هجری)

او پښتنی سلطنت ئې بیرته د نوی سر څخه قایم کړ، په پای کی دغه ستر اولوی زمامدار د کالنجر د کلا په محاصره کی په (۹۵۲ھ) کال کی وفات شو.

✡✡✡

خوشحال خان ختک

د هند د کورګانی دولت د لومړی سر څخه پښتنی واکدارانو په هرځای کی د خپل ملك څخه د بېګانه و د تسلط د محو کولو دپاره په کار لاس پوری کړ، د بابر د دوری څخه نیولی بیا د اورنګ زیب تر دوری «۹۳۲-۱۱۱۸ھ» د هند کورګانی امپراطوران تل د پښتنو سره په جګړو کی اخته وه، په دغه مهال کی د پښتنی شخصیتو او سترو نارینه و څخه یو هم خوشحال خان ختک دی.

دغه د توری او قلم خاوند خوشحال خان د پښتنو د تاریخی عظمت د احیا د پاره د اورنګ زیب د قواو سره وجنګیدی دغه نوموړی په ۱۰۶۴ھ - ۱۶۶۴م) کال د اورنګ زیب له خوا بندی شو، څلور کاله ئې په بندی خانه کی تیر کړه سره لدې چی د محبس څخه ایله شو دده ملی پښتنی روح په خوځیدو راغی.

د دغه نوموړی د مغلو سره لویی او مشهوری محاربی دا دی:

۱)- د نوښار محاربه.
۲)- د تاتر محاربه.
۳)- د خانج محاربه او نوری.

په پای کی دغه ستر پښتون توریالی مړه په (۱۱۰۰ھ-۱۶۹۱م) کال کی وفات شو.

هوتك میرویس خان :

دغه نوموړی د پښتنو د نظامي لويو مېړو او سترو شخصيتو څخه دی چې د ميلادي ۱۸ قرن په لومړی سرکی په کندهار کی د صفوی سلطی په مقابل کی ودريدی د پښتنو د غلجيو د ملی حکومت بنسټ ئې کښېښود .

ميرويس خان په خپل معقول سياست او تدبير سره نه يوازی کندهار په ۱۱۱۹ھ ۱۷۰۸م کال آزاد کړ بلکه پخپله اته کلنه پاچهی او رياست کی ئې د صفوی پرټولو اعزامی لښکرو غلبه وکړه .

ميرويس خان ترخپل ملی سترخدمت وروسته په ۱۱۰۰ھ ۱۶۹۱م کال وفات شو .

✡✡✡

هوتك شاه محمود :

دغه نوموړی د هوتك ميرويس خان پېاوړی زړور ګران زوی ؤ، په کندهار کی په ۱۱۲۹ھ ۱۷۱۷م کال پاچا شو؛ شاه محمود د هوتکی دولت د قلمرو لمن پسی ارته کړه، په پای کی تقريباً د پنځو يشتو زرو لښکرو سره د صفوی پای تخت اصفهان د نېولو قصد وکړ، شاه محمود د ګلناباد د ميدان په محاربه کی د صفوی شپيتو زرو لښکرو ته سخته ماتی ورکړه اصفهان ئې محاصره او کلابند کی په

پای کی په (۱۱۳۵ھ اکتوبر ۱۷۲۲م) کال د محرمی په مياشت کی صفوی شاه حسين پخپله د پاچهی تاج اوخول د هوتك شاه محمود پر سر کښېښود، دغه نوموړی دلوی بری او فتح په ډول اصفهان ته ننوت هوتك شاه محمود خان په لږ مهال کی د ايران د ځينو اطرافو

پرولايتو ئې غلبه وکړه، دغه نوموړی ستر فاتح په ۱۱۳۷ھ کال د ناجوړی ناملامه مړ، ياووژل شو .

✡✡✡

هوتك شاه اشرف :

دغه نوموړی د پښتنو د هوتکی دسترو زمامدارانو څخه ؤ چې دلويو ښورښتو په مهال کی ئې د خپلی توری قدرت او جوهر ښکاره کی ،هغه وخت چې دی په اصفهان کی د اقتدار ځښتن شو، نو عثمانی ترکان او روسان، او د صفوی شاه حسين زوی صفوی طهماسب د

ټوله دده په مقابل کی بېل بېل خطر ګڼل کيدی، ده دستی صفوی طهماسب و ما- زندران ته وشاړه ، او

عثمانی ترکانو ته ئې ويزد ته نژدی سخته ماتی ورکړه او د کسپين و بحيری ته نژدی ئې

روسان هم پرشا کړل، نو ځکه دده سلطنت د ترکچی او روسيی له خوا په رسميت و پيژندل شو .

د افشا نادر قلی د پورته کيدو سره شاه اشرف ته يو لوی خطر پيدا شو، ځرنکه چې د کندهار څخه ملا تړ ورونه رسيدی نو د طهماسب

او نادر افشار سره ترسختو جګړو وروسته ئې مخ و کندهار ته ونيو، مګر دغه ستر نوموړی دښوراوك په سيمه کی ووژل شو . (۱۱۴۸)

✡✡✡

هوتك شاه حسين

شاه حسين هوتك چې د شاه محمود ترمړ نی وروسته ځان د هوتکو د پاچا په حيث سره اعلام کړ نو په ۱۱۸۲ھ کال ئې د وه ولايتونه ډوب او شال د کندهار د هوتکی دولت د قلمرو ضميمه کړل، او په ۱۱۳۹ھ کال شخصاً پخپله تر --

ډېرو (د اسمعیل خان ډېره، او د غازی خان ډېره) او ګومل پوری مخ ته ولاړ، دغه سیمی ئې هم د خپل دولت په قلمرو کی ګډی کړی هوتك شاه حسین په افغانستان کی د یوه ستر او مقتدر دولت په جوړولو کی ډېر کوښښ وکړ، مګر د نادرافشار خطرچی دغه

نوموړی په اصفهان کی هوتکی حکومت او په هرات کی ئې وابدالی حکومت ته سقوط ورکړی و دده د مراد مانع شو، هوتك شاه حسین پوره یو کال په کندهار کی د نادرافشار د بی سروپای لښکر سره مقاومت وکړ څو په پای کی کندهار په ۱۱۵۰ هـ کال د نادرافشار

په لاس ورغی او هوتك شاه حسین د نادر په بندیخانه کی په مازندران کی وفات شو.

✿✿✿

ناصر سیدال خان

دغه نوموړی د هوتکی دوری د عسکری سترو منصبدارانو څخه دی چی د هوتکی سلطنت د لومړی سر څخه ئې په عسکری سفرو کی د یوه نامی زړور جنرال په حیث اشتراك درلود، او د هوتکی

شاه اشرف په دوران کی د سپه سالاری رتبی ته ورسیدی تر دغه وروسته ئې په اکثرولو یو محاربو او جګړو کی ګډون کاوه، په ایران او افغانستان کی ئې عسکری ستر ستر خدمتونه کړی دی، دغه پښتون مجرب سپه سالار هغه مهال چی نادرافشار قلات محاصره کړی ؤ،

د یوې لږ قوې په ملګری سره ئې دوې میاشتی د هغه په مقابل کی مقاومت وکړ، په پای کی ئې د نادرافشار پر فوج او لښکرو په ډېره زړورتیا د زمری پشان یرغل او هجوم وروړ، څرنګه چی د کندهار څخه پوره کومك ورونه رسیدی نو ځکه سیدالخان د نادرافشار د لښکرو په لاس کښېووت، دغه زړور مشهور توریالی پښتون جنرال

چی تر دغه وخته یو ګړی آرام نه ؤ کښېنستلی او تل دغه د پښتنی سرښندونکو قائد په خونی عملیاتو کی ګډون کاوه د نادر په امر ړوند شو. او د خپلی کورنی او اولادی سره د کوهدامان و شکردری ته راغی څو هلته وفات شو.

د هوتکی دوری عسکری ستر توریالی مړونه:
آما الله خان، نصر الله خان، زبردست خان، بهادرخان سپه سالار، آزادخان او نور....

ابدالی احمد شاه بابا

احمدشاه بابا د نوی افغانستان مؤسس د یو شرو شور په وضعیت کی افغانستان د تیت و پر کتوب او تشتت

څخه وساتی او ډېر ژر ئې په یوه ستره امپراطوری تبدیل کی د مشهد او نیشاپور بیا تر ډیلی پوری پراخه وه.

احمدشاه بابا په افغانستان کی نوی او تازه عسکری سیستم میدان ته راویوست چی تر ده وروسته ئې ډېره زمانه رواج درلود، دغه ستر بهادر او زړه ور مېړه

د پښتنو د ټولو تکمو او قبیلو اتحاد وساته او دوی ته ئې په یوه سیاسی تمامیت کی د ننه وحدت او اتفاق

ویخښی او ځان ئې د آریانا لرغونی او باستانی سرحداتو ته ورساوه او د هغو سیمو موقف ئې د پښتنو په لاس کی تثبیت کړ، او په

دی ډول ئې د خپل ستر ملت د پاره داسی حیثیت او عظمت ورو باخښه لکه چی د دوی سره وړوو، ده اته واره په هند کی عسکری سوقیات عملی کړل.

اودغه ملك ئې د درانی امپراطور تر حمایی لاندی راوست احمدشاه بابا د ۱۱۶۰ھ ۱۷۴۷م تر ۱۱۸۶ھ ۱۷۷۴م پوری پاچهی وکړه، په پای کی ئې دملت اووطن ترستر و خدمتو وروسته په ډېره نام نیکی اونامداری دنړی څخه رخصت واخیست.

✡ ✡

شاه پسند خان امیر لښکر

داحمدشاه بابا دستر و نظامی وګړو څخه دی چی دنظامی سپرو په تندو، اود مستقلو یرغلو، او قراولی محاربو په عملیاتو کی مشهور اومعروف دی، له همدی لامله ده ته دقر اول باش لقب هم ورکړه شویدی، احمدشاه به دغه نوموړی اکثره د لیری مسافو او ځایو په مستقلو وظیفو سره مؤظف کاوه، شاه پسند خان به هم په ډېره مړانه او ډېر موفقیت سره دغه وظیفی سرته رسولی.

✡✡✡

درانی تیمور شاه

دخپل پلار لوی احمدشاه بابا ترمړنی وروستی په ۱۱۶۰ھ کال پاچاشو دخپلی شل کلنی پاچهی په دوره کی ئې ددورانو امپراطوری چی پلار ئې بنسټ ایښی ؤ ښه وساتله د هر تیری کوونکی لاس ئې د تیری څخه لنډاوه خو په پای کی په ۱۲۰۷ھ ۱۷۹۴م کال وفات شو.

✡✡✡

بارکزی وزیر فتح خان

سردار فتح خان دسردار پاینده خان نامی زوی دافغانستان دسدوزو ددوری دلویو سیاسی اوعسکری شخصیتو څخه دی، دغه نوموړی سردار د سدوزو د امپراطوری په ساتنه کی وړ وړ خدمتونه کړی دی، اودرانی شاه محمود دغه نوموړی سردار دده دښو خدمتو په مقابل کی په ۱۲۱۶ھ ۱۸۰۱م کال وزیر مقرر کړ، تردغه وروسته دشاه محمود دسلطنت په دوره کی اولږمده هم دشاه شجاع په وخت کی، اوبیا دوهمه پلا دشاه محمود دپاچهی په وخت ئې د وزیر په حیث وظیفه اجرا کوله اوډېر ډېر خدمتونه ئې وکړل، په پای کی دغه پیاوړی او عسکری لوی قاید په ۱۲۳۳ھ ۱۸۱۸م کال د شاه محمود د زوی کامران دمخالفت په سبب لومړی پوند کړ شو، بیا په ډېر غمجن وضعیت سره په همدغه کال ووژل شو.

امیر دوست محمد خان

امیر دوست محمد خان دځلمی توب د لومړی سر څخه دخپل پوهیالی ورور سره دپاچهی په کاروکی لویه برخه درلوده په پای کی د سدوزو دسلطنت د انقراض په مهال کی دخپلو وروڼو په سبب ډېر قدرت لاس ته راوست خو په ۱۲۴۲ھ ۱۸۲۶م کال په کابل کی امیر شو، ده دهغی بی نظمی اوګډوډ وضعیت چی دسدوزو داقتدار دانحطاط په دوره کی پیښ شوی و د منځه وړلو دپاره ډېر زحمت وکیښ، څر نګه چی د برطانوی هندوخواهش او غوښتلو ته ئې چی دافغانستان دملی منافعو اوګټو دپاره مضرؤ په دردجواب ورکړ، نوځکه انګریزانو دده په عصر کی پرافغانستان تیری وکړ، دپښتنو اوانګریزانو لومړی جنګ په ۱۸۳۸ھ ۱۸۴۲م کال کی پیښ شو. د دغه جنګ په مهال کی امیر دوست محمد خان تر پایه پوری (نور بیا)

دوست محمد [تره کی]

«۵»

دګرمسیر د کلتور وضع

«دریم فصل»

۱۳)- لیونی بابا: داسړی هم د بلوڅو د قوم څخه او په لنډی کی پروت دی.

په پورتنیو زیارتو کی مهم او مشهور زیارت دامیر بلند صاحب دی چی قبر ئې ډېر قدیم او د وفات تاریخ په هغه سپینه ډبرینه لوحه چی دده د قبر د پښو وخواته درول شویده ۶۰ هجری سنه لیکلی شوی ده د عربستان څخه د هجرت په ډول دیوه فامیل سره راغلی دی چی فامیل ئې نن ورځ په یوه لویه قبیله تبدیل شویدی چی د خلیفه ګانو کلی ورته وایی په قوم عرب ځانونه بولی او ددغه زیارت پر شاوخوا کورونه لری اکثره ویل کیږی چی دا لوی روحانی شخصیت د میر حمزه حاصب څخه کائنات اکاؤ د هغه زوی دی د زیارتونو احترام او د قدر په سترګه ورته کتل د ګرمسیر او هلمند د نورو منطقو د خلګو یوه عنعنه ده هر څوك باید د زیارت وکی. زیارتونه په هر کلی کی یو نفر خدمتګار (مجاور) لری او د کلی خلګ هغه ته د خیرات په ډول ډوډی او کالی ورکوی دا کثره زیارتو پر شاوخوا په اختر کی وطنی میلی او لوبی هم کیږی.

عرف او عادات

عرف او عادات دیوې جامعی د ژوند د مهمو شرایطو څخه حسابیږی. که ټولنه بدوی حالت ولری یا مترقی وی بیا هم په دواړو حالتو کی دیوه عرف او عادات خاونده وی.

عرف او عادات د انسانانو په مختلفو ټولنو کی مختلف شکلونه لری چی د هغی ټولنی په اجتماعی رشد پوری اړه لری که ټولنه اجتماعی رشد او عقلی بصیرت ولری عرف او عادات ئې مترقی وی او دغه ډول که پورتنی صفات ونه لری د ابتدائی او غیر مترقی عرف او عاداتو خاونده وی.

په ساکته ټولنه کی عرف او عادات ډېر ټینګ دی او د هغی ټولنی خلګ ئې بدلون ته آماده نه وی بلکه د عرف او عاداتو په ساتلو کی مجادله کوی. برعکس په متحرکه ټولنه کی د عرف او عادت بدلون ژر تر ژره منځ ته راځی او د هغه ټولنی غړی د بدلون د پاره آماده دی.

په بل عبارت د عرف او عاداتو ټنګوالی د جامعی ثقافت شاته غورځوی او د عمومی تحول مانع ګرزی برخلاف د دې په متحرکه جامعه کی د رسوماتو بدلون د جامعی د تحول او ارتقا سبب ګرزی.

عرف او عادات د حقوق د نقطی نظره داسی تعریفوی: چی عرف او عادات دیوې ټولنی عبارت د هغه صفاتو څخه دی چی یوه ټولنی پر مادی شرایطو اتکا ولری، څو هر څو مره چی مادی شرایط تغیر وخوری عرف او عادات هم تغیر خوری.

د عرف او عادات درلونکی د درو مهمو خواصو خاوندان دی چی په لاندی ډول شرح ورکول کیږی.

۱- متداوم: عرف او عادات باید په یوه ټولنه کی په مسلسل ډول دیوی زمانی راپدې خوا یا د هغه ټولنی د خلګو په مابین کی نسل په نسل پاته وی او کمه سکته پکښی نوی راغلی.

۲- عقید وی لزوم : د یوې ټولنی عرف او عاداتو ته باید د هغه ټولنی خلګ عقیده ولری او کوم چی د خپله ځانه عرف او عادات ئې وی نه د بل محیط .

۳- اجبار : عرف او عادات د یوې ټولنی باید تر اجتماعی اجبار لاندی وی او د هغی ټولنی افراد ونه کولای شی چی د هغوی د اجتماعی جبر څخه ځانو نه خلاص کی .

پورتنی تبصره په عمومی ډول د عرف او عاداتو د تعریف او وضاحت په هکله وه مګر زموږ موضوع او مقصد دلته د ګرمسیر عرف او عادات دی .

د ګرمسیر حوزه تر اوسه هم د علم او تمدن د نقطه نظره ښه ترا مخ ته نده تللی . د خلګو ژوندانه طرز او اجتماعی تقاضا ئې ساده عرف او عادات ئې پر پخوانی شکل پاته دی او تحول لږ پکښی لیدل کیږی که کم تحول پکښی راغلی دی هغه هم ډېر لږ دی .

د عرف او عاداتو د نه تغیر سبب په هغه ځای کی دادی چی د هغو خلګو ذهنیتونه په عمومی ډول ښه تراندی مترقی شوی . ځکه نو اکثره خلګ ئی د پخوانی رسوماتو او عنعناتو طرفدار دی مګر سربیره پردی اکثریت د خلګو په هغه ځای کی د دې طرفداره دی چی زاړه عرف او عادات دی پر ځای پاته شی بیا هم یو طبقه خلګ چی تقریبا د ۳ څخه تر ۵ فیصدو پوری سته او د دې طرفدار دی چی د ژوندانه اکثره مادی شیان لکه کالی خوراك ، استوګنه ، آلات آسباب او د ژوندانه نور وسایلو او کاروته تغیر ورکی او دغه رنګه زاړه او بی ځایه رسومات د منځه درك کی دا طبقه عالمان او بعضی نور د سالم فکر او ښه ذهنیت خاوندان دی .

د عرف او عادات موضوع ډیره لویه او د ژوندانه مختلف شیان په برکی نسی نو دا موضوع پر مختلفو عنوانو په وروسته پاڼو کی راولو .

کالی (لباس) خواړه او د استوګنی ځایونه :

د هلمند د ناوې د وطن والو خلګو لباسونه او خواړه د استوګنی ځایونه د ټولو منطقو بېله د ولایت د مرکز (بست) او ګرشك څخه لږ فرق سره لری .

د شمالی برخو (کجکی موسی قلعه ، نوزاد) کالی او کورونه نسبت د هلمند و جنوبی برخو ته لږ اندازه مترقی دی .

د ګرمسیر منطقه و جنوب ته د هلمند واقع ده د کالی اغوستلو طرز ، کورونه او خواړه ئې ډېر ساده شکل لری د ګرمسیر شمالی برخه نسبت د جنوبی خواو ریګستانو ته د پورتنیو شیانو د نقطی نظره ښه ده د ښه والی سبب ئې دادی چی د یوه طرفه ولسوالیو ته نژدی دی او د بله طرفه د ګرمسیر بازار د منطقی په شمال کی دی او هلته د کندهار بست او نورو ځایو څخه خلګ راځی غنم وړی ، او نور شیان د تجارت په ډول راېیسی چی د دوی دی تماس د شمالی برخی پر خلګو اغیزه کړیده .

دریم علت ئې دادی چی د ګرمسیر په شمالی برخه کی د درو کالو د پاره یوه مهمه پروژه د کانال د کیندلو او د رویشان د پله او سړکانو د جوړولو کار شروع شو چی په حدودو کی د درو زروتنو کارګرو هلته کار کاوه نو طبعاً ئې د ګرمسیر د شمالی برخی پر ټولو شیانو اثر واچاوه ځکه ئې د لباس خوراك او د استوګنی په ځایو کی نسبت د ګرمسیر و آخری برخی ته ښه تغیر راغلی .

پورتنی دری شیان چی د ژوند لمړنی اړتیا وی بلل کیږی په ګرمسیر کی په لاندی ډول دی .

لباس :

د هلمند د ناوې وطنوال خلک بېله دولایت د مرکز (بست) او د ګرشک د ښار څخه تقریباً د نر اوښځو لباسونه د جوړښت د نقطې نظره یو شکل لري د ګرمسیر د خلکو لباسونه هم د هلمند د محالاتو د خلکو په شان ډېر ساده شکل لري چې مفاد ئې لږ او د صرف ئې نسبت د هغوی د اقتصادي وضعې ته ډېر دی . ګرمسیر د منطقې د بزګرانو او مزدورکارو بلکه د ټولو خلکو بېله خانانو او ملاکانو څخه چې په هغه ځای کې ژوندلري د کالو طرز ئې پدې ډول سره دی کالې ئې د سپین سان یا د رنګه ټوکرانو څخه لکه خړ، نسواري فولادي او نورو رنګو څخه دی. دوی کمیسونه د څلور یا څلور نیم ګزه ټوکر څخه جوړ وي چې اوږدوالی ئې تر زنګانه پورې رسیږي لمن ئې پراخه تر څګې لرې غاړه ئې په اوږو کې تړل کیږي لستوڼې ئې پراخ او اوږده دي چې اوږدوالی ئې اکثره د لاس د ګوتو تر نوکانو رسیږي. (عموماً په اختر وکې) د ځوانانو او هلکانو د سپنو کمیسو ځګرونه په شنو او رنګه ورینمو خامك شوي وي پرتوګونه ئې اکثره سپین سان یا بل ډول ټوکر څخه وي چې د ۷ څخه تر ۸ ګزو لوی والی لري اوږدوالی ئې د پښو تر بجلکو پورې دی د پایخوخولی ئې پراخې دي بزګر او مزدورکار ان ډېرې صدرې نه آغوندي او که ئې آغوندي هم داختر په ورځ ئې آغوندي د کرتې د اغوستلو سره چندانې عادت نلري د صدرې د جوړښت طرز ئې کندهاري دی، د سپین سان په جوړه کړې خولې باندې ئې د سپین یا توري خاسې لنګوټه چې پنځه ګزه اوږد والی لري تړلې وي د ټکر درې تاوې سره ګنډلې اوپر اوږو باندې ئې اچوي چې لمونځ هم باندې کوي دغه ټوکرته (پټو) وایي پټو په دوبې پرځانو هم د خوب په وخت کې د شپې یا د غرمې د خوا اچوي کوسې د وړیو څخه د کراستې (لمڅې) په ډول جوړیږي چې عموماً ئې رنګ سپین د چپېنې شکل لري دا لباس د هلمند د ناوې د کلیوالي ښځو د خوا جوړیږي. د کوسې څخه په سفر کې د شپې د خوا د تلتك کار هم اخیستل کیږي .

په دوبې کې بزګره طبقه عموماً مختلف شیان لکه موچڼې څپلې چاروغې (چې دوړیو او ربړ څخه جوړیږي) بوټ او ربړې چوټې په پښو کوي میرمنې ئې سر بیره پر وطني افغاني کالیو د سپینو زرو ګیڼې لکه پیزوان، غاړه ګې، اوږده وښې، ګټمې، والې، چهارګل او نور شیان هم استعمالوي مخصوصاً په ښادیو او وطني میلو کې داختر په ورځو کې ډېرې ګیڼې او د بخمل کمیسونه چې په هغه منطقه کې ښه شهرت لري اغوندي او زرینې د ګلابتنو موچڼې ورسره په پښو کوي ، سر بیره پر دغو لباسو بیا هم هلته یو تعداد ځوانان ملاکان او متعلمین او منوره طبقه موجوده ده چې د لباس په جوړولو او اغوستلو کې د ښار د خلکو تقلید کوي او پخوانې طرز څخه ئې خپل لباسونه اړولي دي .

(خواړه)

د ګرمسیر خلک ساده او بې تکلیفه خوراك تهیه کوي غریبه طبقه ئې چې اقتصادیات ئې د لاس په مزد تکیه دی د بزګرۍ یا ورځنې مزدورۍ څخه خپل اعاشه کوي. د پسو د غوښو ښوروا د غوښو سره خوري په دوبې د ګرمۍ له

کبله د غرمی د خوا مستی یا شلومبی دغنمو د ډوډی سره خوری دسهار دخوا خوبری چای هم چیښی دژمی په موسم کی د

بعضی غریبو خلکو په کوروکی لاندی یا شکنه پخیږی .

دګرمسیر کی ځینی خوراکونه سته چی په مختلفو موسمو کی د کال لکه په نوروځایو کی خوړل کیږی دهغه جملی څخه دژمی

په موسم کی دپسه وچی غوښی (لاندی) دی چی دهر ملاك په کور کی وی ، مګر بعضی غریبان خلکهم لاندی کوی، په دوبی

کی مستی ، شیدی ، شلومبی ، کچی اوربزه ، پوخه ، چکیده ، دا کثرو خلکو په کوروکی چی دځانو

غواوی لری سته اونور کسان هم دشلومبو څخه دهغوی بېله کومه قیمته استفاده ځنی کوی او اکثره بزګران دځانو غواوی او

میږی لری چی دپورتنی شیانو څخه ئی د دوبی په موسم کی

استفاده کوی، په ژمی کی کرت اوغوړی مهمه غذاده هر څوك ئی هلته خوښوی شیدی اوغوړی هم هلته د ژمی غذاده . مګر

(خریږی) چی دشیدو اوشلومبو ترتیب شویدی په دوبی کی خوړل

کیږی. (نخړی) هغه غذاده چی کچی دایشیدلو څخه وروسته د

دیګ په بیخ کی دشلومبو او کچو مخلوط یو اندازه غټی غټی سپین شیان پاته سی

هغوی ته بیا نوری مستی وراچوی اوایشوی ئی چی پسله څه وخت ئی را واخلی (نخړی) ور ته وا یی او

دغرمی یا شپی په وخت کی ئی خوری .

پر پورتنیو خوراکو سره هلته میوی اوسبزیجات (سابه) اونورهغه مواد چی ډېر ویتامینونه ولری لکه

رومی بانجن توربانجن او بادرنګ چمبرخیال خټکی هندوانی ، مشمره ونی اود

هغوی میوی لکه زردآلو شفتآلو، انار، ناك، سیب

بهی اونور هلته چندانی نه لېدلی کیږی، دانګورو

باغونه لږلږ لیدل کیږی د نوروځایو څخه راوړی، د

اومو پخو سبزیجاتو خوړل لکه پالك، کاهو او کیرم کریله هلته رواج نه لری .

دګرمسیر دخلکو دساده خوراك سبب دادی چی هلته دیوه طرفه خلك د ډېری

زمانی راپدې خوا دنورو ځایو سره په تماس کی نه ؤ اونه د نورو ځایو خلك

هلته ور تلله سبب ئی د لاری خرابی او عدم وسایل وه موټران نسوای تللای پر پښو او چهارپایانو باندی هغه منطقه

ډېره لیری وه دوهم علت ئی د هلمندرودؤ چی پرهغه باندی

پل هم نه ؤ دهغه ځای خلك بېله شدیده ضرورته ګرشك ته چی د هغه وخت د حکمران مرکز ؤ راتلهځکه نود باغو جوړول اود

مشمرو ونو کښینول ئی په فنی ډول نه وه زده .

مسکن (داستوګنی ځایونه په کلیوالی بڼه) :-

دکورنو دتعمیر (جوړښت) د نقطی نظره د هلمند د ولایت شمالی منطقی نسبت وجنوبی

مناطقو ته بېه دی د جنوبی خوا کورونه چی ګرمسیر هم په هغه برخه کی راځی دجوړښت د نقطی نظره چندانی مصرف نه غواړی

ځکه چی ددوی ژوندپر ساده اوکورونه ئی هم په ساده شکل جوړیږی. هلته داستوګنی دځای

(کور) پیداکول او یاجوړول د ژوند مهم پرابلم ندی او نه کورونه په دائمی ملکیت کی د

خلکو راتلای شی. بلکه دخومدی دپاره دی بیا خلك هغه ایله کوی .

(نور بیا)

ژباړه کونکی: عزیز احمد «ترقی»

مځکه په څه شکل ده

پدې خبره هرڅوك پوهيږي چې مځکه دکرې په شکل سره ده او په فضا کې حرکت کوي په پخوا زمانو کې به خلکو ويل: چې مځکه سطحې اولږ نيمګوله يعنې لکه دجنګ دسپر داسې شکل لري. پدې باره کې چې مځکه پرڅه شي تکيه ده هرقوم مختلفې عقيدې درلودې

د پخوانيو هندیانو په عقيده چې مځکه يوه غټه نيمکرې ده چې دڅلورو پيلانو پر اوږو باندې ولاړه او پيلان بيا ديوه غټ کيشپ پرشا باندې ولاړ دي پخپله دغو خلکو چې دغه عقيده درلوده پدې نه پوهېدله چې کيشپ پرڅه شي ولاړ دی، پدې وروسته وختو کې ديوه پلار او زوی ترمنځ خبرې کيدلې چې زوی له پلاره پوښتنه وکړه:

باباجانه! مځکه پرڅه شي ولاړه ده؟

پلار ئې جواب ورکړ؛ چې پرماهي! زويکه مځکه پرلويو لويوماهيانو باندې ولاړه ده کله چې ماهيان وخپل ځان ته حرکت ورکړي مځکه په تکان راځي.

باباجانه! ماهيان پرڅه شي ولاړ دي؟

زويکه! ماهيان په اوبو کې آب بازي کوي.

باباجانه! اوبه چيرې دي؟

زويکه: اوبه دمځکې پرمخ دي.

زوی: آيا نو مځکه پرڅه شي ولاړه ده؟

پلار ئې: رشتيا ته ډېر احمق هلک ئې! وتا ته مې ونه ويل چې مځکه د درو ماهيانو پرشا ولاړه ده، دغه مباحثه تر اوسه هم وپای ته نه رسيږي.

دا څه عجبه نده چې پخوانيو خلکو دمځکې په باره کې داسې فکر کاوه چې مځکه يوه هموار سطحه ده.

بلکه دتعجب پدې کې دی چې څنګه ئې وکړای شوای چې مځکه ئې په هغه خپل حقيقي شکل کشف کړل.

معلومه خبره ده چې دمځکې دحقيقي شکل کشفوالی په زروزرو کلونه په برکې نپولی آمادا کار د اوږدو مسافرتو په ترځ کې دی کرار کرار آسانه شو.

د مځکې پرشا و خوا باندې د خلکو مسافرتونه دډېرې پخوا څه راشروع شويدي دځنګلونو اوراخيستلو، ددريا بو طغيانو، سيلابو، قحطيو، اووچ کالیو، يخونو اونورو آفتونو دوی دې ته مجبوره کړل چې ديوه ځايه څه وبل ځای ته کوچ وکړي لومړنيو انسانانو خپل مسافرتونه ډېر کرار او په ځنګ سره پای ته رسوله.

ښه به داوی چې دمسافرت دکلمې پر ځای دمهاجرت کلمه استعمال کړو، په هرحال کې چې مهاجرت په کلو اوږدېدې خلکو په زرو زرو کيلومتره فاصله طی کوله.

په تاريخي دوران کې خلک دراکړې او ورکړې دپاره ديوه ځايه څه وبل ځای ته ل؟!

دحیواناتو د پوستو بـه کاریانو د حیواناتو پوستونه ئې د تورو، خنجرو، چړو او لوښو سره تبادله کوله بزګرانو بیاغلی اودانی په کالو اونورو شیانو تبادلـه کولی .

دا را کړه او ورکړه دیو طبقی لـه خوا کیدل چې دغه ئې کارو چې د یوه مملکته څه به ئې شیان وبل مملکت ته وړل او په عوض کی به ئې نورشیان ځنی راوړل چې تاجران نومېدل دا وظیفه ئې پای ته رسوله .

دغه تاجران ډېر دلاوره خلک وه او دوی د خپلو مسافرتو په ضمن کی مجبوره وه چې د هغو وحشی او درنده حیواناتو څخه ځان وژغوری کوم چې دوی ته خطر ور پېش وی او دهغو دښمنانو سره چې د دوی مالونه او نور شیان په وچه او دریاب کی تالا او چپاو کوله جنګ وکړی .



دې تاجرانو هم په وچه او هم په لویو دریابو کی د کوچنیو کښتیو په واسطه ولیری ځایو ته سفر کاوه .

تقریباً ۷۰۰ کاله پخوا یو ایتالوی تاجر چې مارکوپولو نومیدی دوینز له ښاره څه چې په ایتالیا کی واقع دی وچین ته مسافرت وکړ . اودلویو غروڅه راکښته چې څوکی ئې آسمان ته رسیدلی اودهغو وچو او خطرناکو صحراؤ څه تیرشو او چین ته ولاړی څومدې وروسته دجنوبی آسیا دسواحلو له لاری د کښتی په ذریعه بیرته وخپل مملکت ته ولاړی

مارکوپولو خپل دزېږېدنی ځای په ځوانی کی لاپرېښودی ۲۵ کاله ئې دخپل مملکته څه دباندی تیر کړه او په سپین ږېرتوب کی بیرته خپل مملکت ته ولاړی . مارکوپولو (۱۷) کاله په چې کی ژوندو کړی او (۷) کاله ئې په تګ اوراتګ کی پرلاری تیر کړل . مارکوپولو چې بیرته وینز ته ولاړی ښـه ډېرعمر ئې وخپل ژوند ته ادامه پسی ورکړه او دچین دخلکو دژوند په باره کی ئې هغه وخت یـو کتاب نوشته کړی .

دوه سوه کاله وروسته یو روسی تاجر چې (آفاناسی نیکیتین) نومیدی، د (تور) دطائفی څه و شرق ته مسافرت وکړی .

نیکیتین د روسیې دشمال څه حرکت وکی اودایران دلاری وهندوستان ته لاړی او (٦) کاله ئې په هندوستان کی تیر کړل اودخپل مسافرت شرح ئې په خپل یوه زړه پوری کتاب کی چې (سفر ددریابو وخواته) نوشته کړه . په هغه وخت کی دیوه ځایه څه تګ وبل ځای ته ډېره موده په بر کی نیول

نن ورځ چې یوه لار په یوه هفته کی طی کیږی هغه وخت په کلو کلو طی کېدله هوائی خطونه داوسپنی لاری اودبخار کښتی د سفر

دپاره وجود نه درلودی .

تاجرانو وچه لار د آسانتیا او اوښانو په ذریعه او دریابونه ئې دکوچنیو کښتیو په ذریعه طی کوله .

ډېر خلکو برسیره پردغو تکلیفو اوبده مسافرتونه کول آماهغه خاطرات کوم چې دوی ورسره مخامخ کیدل ژرئې له یاده وتل او هغه کسان لکه مارکوپولو او آفاناسی نیکیتین چې په لیکلو اولوستلو پوهېدل او

کولای ئې سوای چې هغه واقعی او حادثی چې دوی ورسره مخامخ کیدل نوشته کړی اوداکسان په هغه وخت کی ډېرلږ اومحدودوه

هرڅو مره چې به ئې سفر او بد پیدی لائی کوښښ کاوه چې لاډېرځایونه ووینی .

هغه وخت چې دمځکی نقشی ومنځ ته راغلی ښه تر ډېره وخته پوری صحیح او پوره نه وی. که هغه زړې نقشی پیداشی دغاب شکل لری. پرتولو وچوئې د(اسناسوس) رودخانه

راګرځولی وه. چې ددغه وچو په منځ کی یو لوی دریاب ؤ چې حتی پخوانی خلک ئې هم پیژنی تاجران اوجنګی کښتی او دریابی غله

له دغه دریاب له لاری څخه تیر پدل. دمدیترانی لغات ددؤ یونانی کلموڅه جوړسویدی چې په معنی سره د منځ او د وچی دی

ځکه چې خلکو عقیده درلوده چې دغه دریاب دنړی په منځ کی واقع دی .

نن ورځ تو له پدې خبره پوهیږی چې دا خبره سیمه نه ده آما اوس هم هغه دمدیترانی په نامه یادیږی .

دنن ورځی په جغرافیائی نقشو کی هغه خطونه چې دمدارو او نصف النهارو په نامه

یادیږی داخطونه زموږ سره ډېر کومك کوی اوکولای شو چې دمځکی د کری هره نقطه معینه کړو .

داخطونه په خپلو مخصوصو علاموسره ۱۸۰۰ کاله دمخه اختراع شویدی .

بطلیموس دیونان یوپخوانی منجم دجغرافیا په باره کی خپلی ټولی اطلاع وی سره راټولی کړی اوبوداسی نقشه ئې جوړه کړه کوم چې یونانیانو اوددوی همسایه ګانو تصور کوله

پدې نقشه کی د اروپا ټو له مملکتونه اوپه استثنا کی صورت دهغه شمالی حصی اودآفریقا شمالی برخی اودآسیا هغه برخی چې لیدلی ئې وی شاملی وی .

بطلیموس داسی عقیده درلوده چې مځکه ګردی شکل لری او چارچاپیره ئې فضاده .

ډېری فیږی تیری شوی هغه یونانی نجوم ګران هم سره کم شوه اوددوی لیکنی هم سره ورکی شوی نوخلکو بیادوهم ځل دافکر کاوه چې مځکه یو سطحی شکل لری، کشیشانو چې د

جغرافیی دعلم څخه فایده اخیستله اوخلک به ئې دې نظریی ته رابلله دپنځلسمی پیړی په نیمائی کی چې به خلک ددریابو اوبدوسفرو

ته تلل ودوی ته به ویل کیدل چې پدې کار کی لاس مه وهی لیونی کیږی ځکه چې پدې کار کی دهغو کشیشانو درواغ رسوا کیدل وه نو همیشه د... طبقه غواړی چې خلک په دغو درواغو خطا باسی .

دهغی زمانی خلکو پدې ټینګه عقیده درلوده چې مځکه همواره اوسطحی ده او چارپیره ئې داسناسوس رودخانی دی چې د پوه لوی آبشاره څخه وپوې بی پایه کندی ته توئیږی .

او که کښتی د مځکی تر څنډو پوری ولاړه شی نو بېشکه په هغه کنده کی لوېږی او ور کېږی .

حتی په هغه زمانه کی هم عاقلان وه لکه بطلیموس ده په هغه زمانه کی دا عقیده درلوده چی مځکه ګردی او دکری په شکل ده نه سطحی او همواره .

هغه کسان چی دلیرو سفرو مخالف وه نو به ئی ویل : (ډېرښه ! موږ ئی قبلوو چی مځکه ګردی او دکری په شکل ده، آما که کښتی د لوړی و کښتی ته ولاړه شی آیا دراتګ امکان ئی بیاشته نو بیانسی کولای چی د کښتی څخه ولوړی ته پیر ته ولاړه شی) .

آیا ددې خلګو اشتباه چیری ده: دوی دا تصور کوی چی د مځکی په لوړه کی دغرو پر سروژوند کوی .

بی مناسبه به نه وی چی یوه کوچنی قصه پدې باره کی وکړم .

په یوه زمانه کی په یوه داسی کلی کی چی د مځکی څه یو څه لوړ ؤ دوو دوستانو ژوند کاوه چی یو ئی نړی ګرزېدونکی (جهاندیده) او بل ئی داسی سړی ؤ چی بېله خپله کوره څه ئی بل ځای نه ؤ لیدلی نو دې ته موږ نړی نه ګرزیدونکی وایو ژوند کاوه .

نړی نه ګرزېدونکی به همېشه د خپلو دوستانو سره ناست ؤ .

او نړی ګرزیدونکی به همېشه د یوه مملکته څه و بل مملکت ته ثلی، ځکه چی ده غوښتله چی د مځکی پر کوره باندی را وګرځی .

او دا نړی نه ګرزیدونکی به همېشه غوښتله چی دده په زړه کی بیره او هول ور واچوی .

د زړه څه به ئی آه و کښی و به ئی ویل :

ته غواړی چی د مځکی لاندی ولاړ شی او د هغه ځایه څخه ځان د آسمان و منځ ته ارتاو کړی .

آما نړی ګرزېدونکی ډېر دلاورؤ او خپل رفیق ته ئی جواب ورکړ او وویل :

په هر حال چی وی زه خو اوس ځم او که پسله درو کالو را نه غلم نو ئی ته داسی انګیره چی زه مړیم ... په دغه ترتیب نړی ګرزیدونکی وخپلی لاری ته دوام پسی ورکړ پدې ترتیب ډېر مملکتونه ئی ولېدل او پر له پسی ېوې خوا ته ئی هر ځای ته چی تلی تر پښو لاندی مځکه او پر سر ئی آسمان ؤ شاید ده د مخه د ځانه سره دا فکر درلود چی د مځکی څه به و آسمان ته و خیژم .

آما دا څنګه کیږی چی آسمان دی زما پر سر قرار ولری او زه دی بېله کومی آلی ور وخیژم ؟

نړی ګرزیدونکی د خپله ځانه سره په فکر شو؛ (زه څنګه احمق وم چی فکر می کاوه چی زموږ کلی د مځکی پر لوړه دی. اوس معلومه شوه چی ټوله ځایونه پر لوړه دی رشتیا که دغه حقیقت وخپل رفیق ته ووایم څو مره به په تعجب شی) .

پسله یو نیم کاله نړی ګرزېدونکی عقیده درلوده چی وهغی نقطی ته رسیدلی دی کوم چی مقابل د هغه کلی کوم چی دی پکښی زېږیدلی دی .

د ځانه سره ئی وویل : ډېرښه دی! اوس زما پښی او د نړی نه ګرزیدونکی پښی یو بل ته متوجه دی زموږ سرونه یو د بل په مخالفه خوا کی واقع دی .

(نور په ۲۲ مخ کی)

توماس مور

پخوانی ورځی

توره شپه ده ....!
دخوب څپی را باندی راځی..!

خاطرات می د نورو ورځو
رڼا ښئی...!

د کوچنی توب دوختو...!
دهغه وخت خنداوی او
اوښکی..!

دمینی خبری..!
دهغه وخت سترګی خو د
مینی څخه ځلیدی...!

خواوس لیدل کوی...!
د هغه وخت خواپا کی
زړونه...! چی اوس وچ شوی
دی...!

داسی نو... په غلی شپه...!
خوب را باندی راځی...!

اودغم خاطری...!
د پخوا ورځو رڼا....!
راته کوی..!

د پیغلی (رڼا) ټاکنه

[شیلی]

چی ډېوه مړه شی

چی ډېوه مړه شی ،
رڼا په تور و خاورو
ولړله شی ، چی اوریځی
ولاړی شی ، دشنی زرغونی
ښایست ورک شی ، چی سرېنده
ماته شی ، نغمی هیری شی!

☆☆☆

موسیقی او ښایست د
ډېوې او سرېندې تر
ورکېدو وروسته نه
پاتیږی ..

☆☆☆

چی اروا پټه خوله وی ،
پرزړه هم خوږی بدلی نه
راځی !

☆☆☆

بلکه وېرجنی ناری
ځینی خیژی ، لکه د باد
بزکی په ورانه کوټه کی!

☆☆☆

یا لکه د دریاب د څپو
ږغ ، چی فردیسان دمرګ
غېږور کوی!

د مور لفظ

د مور لفظ د دنیا په شلو مختلفو
ژبو کی د (م) په توری شروع
کیږی لکه چی د آریانی په ژبه
کی ما او د سانسکرت په ژبه کی
(ماتا) او په فارسی مادر او په
یونانی میتر ، په بلغاری ماتی ،
په هسپانوی مادر ، په روسی میت
په لاتینی ماتر ، په پرتګالی مادر
په ایټالوی مادر ، په پولنډی
ماتکا ، په جرمنی موتر ، او په
فنلالنډی د مویدر او په هالینډی
مویډر ، او په سویډنی او
ډنمارکی مودر ، او په آئسلنډی
مودسیر ، په آیرلینډی ماتهیر
او په پروانتهال پاپروونسی میر
او په لیتوانیائی موت ، او په
انګلیسی مدر ، او په پښتو مور او
ځینو نورو ژبو کی هم دمام ، ماما
مامی ، موم په نامه یادیږی .

مینه دځان دپاره ضعیف
زړه خوښوی ، له غښتلو زړو څخه
وزی !

اې مینی ! تاولی دځان
دپاره ضعیف زړه ټاټوبی غوره
کړیدی ؟

☆☆☆

د بی وزلو زړونه داسی
ښوروی ، لکه صرصر چی بڼی په
فضا کی الوزی !

لکه لمر چی دژمی په آسمان
کی سوړوی ، یا لکه په سړو سیلیو
چی پاڼی رالویږی ته هم پرزړه
دغسی حکمرانی کوی .

ښاغلی پژواک

د هجران په لمبو وسومه ایری شوم

د بېلتون له لاسه عمر مې په دار دی
دژوندون پیټی مې دروند په اوږو بار دی
خندنی شوم درست دښمن را پوری خاندی
اې زړګیه را ته ژاړه نن دی وار دی
د هجران په لمبو وسومه ایری شوم
چې زما سره د مینی نور څه کار دی
په هیڅ فصل کی مې رنګ دزړه وانه اوښت
نه پوهیږم چې دا ګل د کوم بهار دی
یګانه زړګی مې ډېر مطلب آشنا ؤ
چې مطلب مې د آشنا شو اوس مې یار دی
اوردی مړ دی اوس دی هسې سترګی ژاړی
اې «پژواکه» زړه دی خوشی ناقرار دی

څلور ریځه

پر صفحه دی د سپین مخ سطری د ورځو
نه رسیږی څوک د دې و مضامین ته
ستا د مخ ګلستان هسې مستغنی کړم
چې حاجت هیڅ نه لرم خلد برین ته

ښاغلی سلیمان (لایق)

د خولو باران

ژړوی می تیر یاد و نه د شباب
زه که څه یمه د غرو نو ځیږ افغان

یو ځل دومره مهلت راکړه چی اوبه کړم
ستا د شونډو په شربت تږی ارمان

پرېږده؛ پرېږده چی را و سپړی ګلونه
دا تیره، تیره اغزی د بیا بان

که لاسونه د باغبان وای خوځیدلی
لا به خوا په دا بید یا وه ګلستان

هره لویشته ئی د مینی منز لګا وه
دا وطن چی اوس لوخ شوی او عریان

هره تیږه د وطن پچو ته ژاړی
خو افسوس چی څوك یی نه اوری فغان

د لړمو او ما را نو په ځای پرېږده
چی خواره شی سندر غاړی بلبلان

هره څنډه به یی رشک د فردوس شی
که یی سم شی د خولو ګرم باران

زړور زړه

که لایق د خپل هیواد وفادار نه وای
هسی رنګه به هیرشوی او خوار نه وای

که می زړه د زړو زړو په لار نه تلای
هر طرف به یی د تورو ګذار نه وای

که می بوغ د خلکو نه وای او چت کړی
د تورو نو په چپاو په آزار نه وای

شاعری ته به می لاس نه وای ور وړی
که می قام سره د زړه اختیار نه وای

زمانی که زما د ردوای از مویلی
هسی رنګه به ساکت او کرار نه وای

ما به څله تاو د اور ته زړه نیولو
که له ژوند سره می خیال د قمار وای

بناغلی (الفت)

انسان

زه جسم نه یمه ما روح د د ې جهان وګنه
ټیټ می مه بوله بام دخونی می آسمان وګنه

دخاورو ګټو په تخت ناست یم په هوا کی ګرزم
ټول حیوانات می دی تابع ما سلیمان وګنه

تپاره کی نه یم په آسمان کی می ډېوه بلیږی
د آسمان واړه ملایك می شاګردان وګنه

دا ټول نقشونه د جهان او مختلف رنګونه
زما پـه ذ و ق او ارادی پسی روان و ګنه

په کائناتو باندی شپه او ورځ زه لوبی کوم
بحر و فضا می د ېوې منډ ی میدا ن و ګنه

شکایت نه کړم له آسمانه څه ګیله نه لرم
ز ما له لاسه د فلك څېر ی ګرېوان وګنه

سره له دومره اقتداره چی قدرت را کړی
په نری تار کښی می دزلفو اویزان و ګنه

دعشق اومینی په حرم کی زه لوی شوی یمه
څوك چی بی مینی ژوند کوی هغه حیوان وګنه

چی دجمال ډېوه شوه بله پتنګان شوه پیدا
لومړی پتنګ ددغی شمع ته آسما ن وګنه

څلو رېځه

عاشقان چی بید ر د ا نو تـه حـال وایی
لکه مـږ چی قصا با نـو تـه حا ل و ایی

خو له لـړ لـی په شـرابو پټ سر ګـرزم
سـتر ګی سری می و قاضیانو ته حال وایی

مرحو م عبدالستار (خوږمن)

د ګل مخ

چهره د ګل شوه شمع افروزه
بلبل چغار کاله د رده سوزه
چی په موسم دی خوبان هوس کا
تر هوا جار شم د تا نو روزه

☆☆☆

پیدا تنها یم زه لکه شمع
عرض پر قنا یم زه لکه شمع
اوښکی می ځاخی په شپه لوسوزه
لوند سر تر پا یم زه لکه شمع

☆☆☆

پر کوڅه تیرشه د یار شماله
قصه بیان کړه زما له حاله
که درته وایی اوس حال ئې څه دی
وایه بلبل دی بی پر و باله

☆☆☆

زه په خاطر کی دعشق څراغ لرم
مدام په کښلیو پسی سراغ لرم
فراق می زړه په داغو نو وینو
جوړ په سینه کی دګلو باغ لرم

☆☆☆

زړه می نادان و، دمینی غل شو
فراق ئې اور ؤ را باندی بل شو
راحت می واړه په غم بدل شو
اوښی سیلاب دی صورت می سل شو

☆☆☆

په باغ کی شخول دی بیا د بلبلو
ثنا صفت کا د تا زه ګلو
رضا دی کښیږدی آخر په سولو
چی باندی جوړ د بېلتانه چل شو

☆☆☆

د سبا باده سراغ د تللیو !
یوځل خورا وړه تر کام وکلیو
(پیر محمد) پټ کړ د آه دودونو
په اور کی وسو فراق د ښکلیو

پیر محمد (کاکړ)

څلور پځه

ستا د شونډو په څېر کله دی د ګل رنګ
دا جلوه کاندی یو رنګ هغه په بل رنګ
که هر څو سو پیچ و تاب له ډېره رشکه
ستا د زلفو په څېرنه سو د سمبل رنګ

(حمید) ماشوخیل

(څارو)

بی پروا به دی و مخ ته پروانه شم

که رعنا شم که زیبا که جانانه شم
ستا و مخ ته به آشنا شانه ورانه شم

که ساقی شم د شرابو میخانه کښی
شراب څه چی زه به تا ته پیمانه شم
که غنچه شم د سرو ګلو له هوسه
ستا په غیږ کښی به آشنا دانه دانه شم
زما زړه چی ستا د مینی په دام بندشو
ستا په عشق کښی به د خپلو بېګانه شم
که دی مخ په شان د شمعی سوځیده کا
بی پروا به دی و مخ ته پروانه شم
که خوله دی د شفاء پر تندی راغله
هغه دم به دی و مخ ته شکرانه شم
زما د ډاډ په بهار ځان تازه تازه که
چی بو را د ښائسته مخ نښانه شم
که رقیب را ته «څارو» شی پروا مه کړه
و رقیب ته به د زجر تازیانه شم

څلوریځی

په ېوه د ید آینی را څخه پور کړ
د کلی دولت چی زما د حیرانی ؤ
که هرڅو میخانی غواړم نه ئی مومم
هغه می چی په پیاله کښی د ځوانی ؤ
(حنان) بارکزی

چی مستوته مباح کاندی په میو لمبیدل
اوس وایه ملاجانه چی کتاب لری که نه ؟
راغلی یم دا خپله د نیا ګی لاهو کوم
دې خم کښی قطره نیمه شراب لری که نه ؟
(اجمل خټك)

ګی دوموپاسان (۱۸۵۰-۱۸۹۳) د نړۍ د مشاهیر و په لړ کی

دفرانسی د۱۹ پیړی معروف لیکوال (هانری انرالبرت ګی دومو پاسان) په ۱۸۵۰ کال کی د(میرومانسیل) په ښار کی زیږیدلی دی. ده خپل تحصیلات د(ایوتو) په کالج اود (روآن) په پوهنځی کی پای ته ورسول او پوره لس کاله ئی د سمندرونو او پوهنی په وزارتو کی کارو کړ.

په ۱۸۸۰ کی ئی د(شورادومدن) په ورځپاڼه په کار پیل وکړ اود خپلو اشعارو مجموعه ئی خپره کړه دده اشعار چی په هغه وخت کی دده د کامل استعداد معرف وه ډیرژر دخلکو په زړه پوری ومونبت ګی د و مو پاسان په ناول لیکنه کی پوره لاس درلود او کوم

آثار چی ئی خپاره کړی هغه نه یواځی په هغه وخت کی په ملیونو ملیونو خلکو خوښول بلکه تر نن ورځی پوری ئی زړوالی نه دی قبول کړی. کوم مغروف داستانونه چی له ده څخه پاته دی هغه دادی؛ یوژوند، قوی اکه مرګ، زما زړه په لمر کی، دمیس هاریت نندارہ

دسپوږمی رڼا، دپوپ کلیوالی نجلی داستان، بل آمی، مونا وریول هورلا پیروژان.

دډرامو په لیکنه کی هم ګی دوموپاسان څخه یوشمېر آثار پاته دی چی ترټولو مشهور ئی (په کورکی صلح) او (موزوت) څخه عبارت. په اشعارو کی ددې معروف لیکوال ډېر مشهوری پارچی دادی: مادمو دموازل فی فی، مورون خولا داوندلی خوندی، د بکاس نکلونه، ګی دوموپاسان په داسی حال کی چی په خپل ادبی خدمت کی سخت مشغول ؤ ناڅاپه په روحی ناروغی اخته شو او وروسته پسله څوکاله د حواسو په اختلال کی ونښتیځل سو او په ۴۳ کلنی عمر کی مړ شو.

ګی دوموپاسان په ټولو معنی ؤ یوناتورالیست لیکوال ؤ چی اکثراً به ئی خپل روحی حالات او احساسات په داستانو کی منعکس کول دفرانسی یو بل معروف لیکوال (لامارت) دده په باره کی داسی ویلی وه.

ګی دوموپاسان دونه قدرت لری چی تصاویر، حالات او حرکات دعکاسی دکمری په شان په کامل دقت ضبط کړی.

په نړۍ کی ترټولو لویه

دینی مدرسه

ویل کیږی چی دنړۍ ترټولو لویه مذهبی مدرسه په جاپان کی ده نوموړی مسیحی مدرسه له څوکالو راپدې خوا په جاپان کی جوړه شویده او دهغی

بودجه د نړۍ مسیحان د جاپان مسیحی او غیر مسیحی بډایان او یوه نوره برخه ئی د جاپان حکومت پوره کوی، ددې مدرسی

زده کوونکی دنړۍ له بیلو بیلو هیوادو څخه دی او شپه ؤ ورځ په مدرسه کی وی د دوی پلرونه او میندی ټینګار کوی چی د دوی

زامن باید ټول په یوه خونه کی هستوګنه وکړی ددې ګډ ژوند هدف دادی چی د دوی دزامنو په منځ کی د دینی او مذهبی یووالی

(بی دملیت له تفرقی څخه) مزی ټینګ شی. د نوموړی مدرسی دشاګردانو شمېر

۱۱۳۱ تنوته رسیږی دنړۍ بیلو بیلو هیوادوته ددوی

تګ دمدرسی د درسی پروګرامو یوه برخه تشکیلوی.

د منی سیلی

لکه څنګه چی د پسرلی خوږه هوا، د طبیعت موجوداتو ته د حرکت اوژوندقدرت بخښی، او دښکلیتوب ټولی نښی اوخصوصیات د همدې موسم له برکته دنړی په مخ کی تمثیلیږی ؛ هم دارنګه دمنی ژبړه څپړه دګلانو ونو اوځینو نورو موجوداتو په

بڼه کی دا-ی تغیرات پېښوی لکه چی دمازدیګر ژبړی لمر دتوری شپې دراتلو خبر ورکوی .

دانسان ژوند هم دطبیعت په همدې فزیکی قانون ولاړدی لکه څنګه چی دبوې ښکلی بوټی نه غوټی پیداشی، وخپړی اوګل

شی نودهرچا په زړه کی ځای پیداکړی، د باغ او بن ښایست زیات نو طبعی ده چی باغوان پرې وپاړی اود لیری او نژدی

خلګ ورته دسیل دپاره راځی، فضا معطره اودماغونه تازه کوی خوبیاهم د جبری قانون په اساس بیرته مړاوی سی ، پاڼی

پاڼی رژی، اودتورو خاوروسره خاوری سی .

دژوند په اصلی هدف پسی هغه خلګ یون کوی کوم چی دهغه ګل په څپړ دښوآرزوګانو ممثله وی اوخپل ژوند دنورو ژوندیو لپاره وبولی نه داچی خپل ژوند

دځان د ژوند له پاره ! ددې خصلت خاوندان دهغو ګلانو په شان محبوبیت لری چی باتور زلمیان ئې

دپټکیو په ولونو کی دتندی دپاسه ږدی .

ښکلی پیغلی ئې په تورو وربلونو باندی چتر جوړ وی اود ناز کوسینو دپاسه ورته ځای ورکوی ، نو

داسی ښکلی ښکاری لکه چی دباغ دپاسه بل باغ جوړ شوی وی .

✡✡✡

که څه هم دمنی بیرحمه سیلی ددوی دژوند سلګی ختموی .

خوهغه ښې خاطرې او ښکلی منظری لکه د روح جوهر به تل تر تله ژوندی وی اوهیڅکله له منځه نسی تلای ددې افتخار په یاد به هر وخت ویاړی اوساه به ئې ښاده اوسی .

س، انتظار سلطانپوری

ادب دعقل په غیږ کی

ادب د احساس او تخیل تر اغېزې لاندی

پرهنر داحساس او تخیل دمسلط والی ډله وایی : لیکوال بایددباندنی نړۍ په تجسم کولو کی خپلو احساساتو ته اجازه ورکړی چی داخل شی په همدې شان تخیل باید عقل ونه ترټلای شی. حتی پرواقعیت هم بایدمسلط وی؛ یعنی دهمدې فکر خاوندان عقل په هرصورت داحساس سره اوږه پراوږه درول غواړی یاخو بالکل په احساس عقل رټی او وایی :

(دعقل اوطبیعت ترخنګ زړه اواحساس بل جهان ګڼل کیږی اوداډول چی ووایو داجهان هم ځانته جهانونه لری، داځکه چی څوك به لدې نه انکار وکړی چی

انسان په روح کی احساس په وارو وارو ترفکر اغیزه ناکدی دلته داهم باید ومنل شی چی حقیقت انسان دومره ځانته نسی

جلبولای لکه هیله او آرزو (الفرد دومشه) به په کال ۱۸۴۲ کی ویل: (بایدپرتی یعنی هزیان وویل شی) .

ده د عقل تر تسلط پرتی خوښولی اوعقل ئې په هیڅ ډول پرهنرمند اوهنرحاکم نه غوښت (دومشه) به ویل: شاعر دځه شی ښکارندوی دی اوځه غواړی .

ددې پوښتنی په برخه کی ده ته جواب داوو . شاعر د احساساتو ښکارندوی دی اود خلګو څخه دا حساساتو پارول غواړی .

ددې ولې لپکوالوغوښتنه د ادب اوهنر په برخه کې صرف داده چې څه وايي دوی وايي او څه

چې غواړي خوداحساساتو په امر دلته دوی داحساس د امرسره تخيل حکم هم ملګری کوی مګر عقل دلته نه غواړی اونه هم د احساساتو او تخيل دښو رېدومخه را وګرځوی .

هو: داچې شاعر دخپل احساس تابع دی اودی وکولای شی چې

خپله دنيا يا دده داحساس دنيا دد باندنی جهان دپاره د کتنی معيار اوهنداره کړی .

دا برخه په هنر کې بل باب خلاصوی چې هغه ته بايد يوخاص سبجکټويزم ووايو يعنی هغه طرز تفکر چې وايي : هرڅه چې

شته اووی به هغه دفرد فرديت يا دده ځان دی يا داچې دوی وايي هرڅه ته چې حقيقت وايي هغه د فردفکر اوده رايه ده چې پر نور جهان بايد حاکمه وی، دا طرز

تفکر په حقيقت کې پر نورجهان داحساس تسلط يا خودپوه انسان هغه (ميښت) ګڼل سويدی چې ځان هرڅه بولی .

عقل مګر ضد ئی بيا دهغه (ريشنليزم) په غيږ کې جهانی عقل يا عقل کل ته مراجعه ده چې دفرد عقل او هرڅه دلته قيمت نه لری .

نوی علمی معلومات

پوهانو ثابته کړی ده چې دلمر تودوالی قطب او استوا ته په پوه اندازه رسيږی که چيری دقطبو يخی يوځل او به سی نو بيا بيرته يخ نسی اما قطبی منطقی ديخو پنډو طبقو پټی کړی دی او موږ ګمان کوو چې قطبی منطقی خو راسړی دی .

پوهان دخپرنو په اثر دې نتيجی ته رسيدلی دی چې په قطبو کې دسړو علت ديخو وجود دی، اوس اوس دټولو جوی تغير اتو په نظر کې لرلو سره دلمر دتودوالی درجه چې قطبو ته رسيږی دسانتيګراډ (۵) درجو په اندازه ده نو لدې امله که چيری د قطبو يخونه په کومه واسطه او به سی نو بيرته نه يخيږی اود قطبو هوا به هم ژر ترژره د اعتدال خواته راسی په بل عبارت د لمر دتوالی اندازه چې دقطبی او استوائی سطحو هرمربع متر ته ديو کال په ظرف کې رسيږی يوشان نه ده اما دقطب او استوا دټول اختلاف علت يوازی دتودوالی دجذبولو په طريقه کې دی: بحرونه دلمر تودوالی په سلو کې له (۹۰) څخه تر (۹۵) پوری جذب کوی اودخپلو نژدی منطو دتودوخی درجی دلوړ والی سبب ګرځی .

نو چې هم (۸) په سلو کې تودوالی جذب کوی اما واوری او يخی له (۱۰) تر (۲۰) پوری تودوالی جذب کولای شی .

خو په سلو کې له (۸۰) تر (۹۰) پوری ئې تلف کوی هم دا سبب دی چې دقطبو هوا تل تر تله سړه وی که چيری دا يخی په اوبو بدل شی نو دقطبو هوا به هم معتدله شی او داسی ثابته شوی ده چې دلمر دمنظومی نوری سياری دمځکی دکرې مدار ته تغير ورکوی .

دا امر هم ددې سبب شويدی چې ديوملیون کالو دتيريدلو سره دهغه تووالی څخه چې دمځکی کری ته رسيږی څه اوڅه کم شی

خير! دلته زما مطلب داوچې هنرد (ميښت) په غيږ يا دهغه حساسی غيږی ته هم لو پېدلی دی چې دځان په اندازه جهان هم وينی يا داچې ددې مذکوری خاوندان خپل احساس ته دا اجازه ورکوی چې هرڅه په خپله تله وتلی نه داچې عقل او جهان بينی پرتله کړی .

د «سوځند» ژباړه

ماکس پلانك یا یو ستر اقتصادی پوهاند

د المان مشهور پوه چی دځوانی په جریان کی ئی ورو،ورو یولوی انقلاب پهوجود راوړی دا پریل د میاشتی پر۲۳نېټه په ۱۸۵۸م کال کی داتحادی المان پهپوه ښار کی وزېږېدی اودخپلو تحصیلاتو ترسرته رسولو وروسته ئی دمونیخ په پوهنتون کی په کارباندی شروع وکړل .

ماکس پلانك پهداسی وخت کی چیدخپل عمر ۲۵پسرلی ئی نه ؤ تیر کړی پهپولړداسی مطالعاتو باندی پیل وکړ چی هغهته د (انرژیانتقال) ویل کیږی. چی پدې لاره کی ئی ستر موفقیتونه په برخه شول .

نوموړی دخپلوپرله پسی تجربو اوربړونو پهرڼا کی د دسمبر دمیاشتی په ۱۶نېټه پهکال ۱۸۹۹ بریالی شو چی انرژی هیڅکله په اتعالی توګهسره نه انتقالیږی، مګر تیر معاصر پوهان تر ۱۸۹۸ کاله پوری پدې عقیده وه چی انرژی له یوې نقطې څخه وبلی نقطی ته په اتعالی ډول سره حرکت کوی .

څرنګهچیدـ ۱۸۹۹ کال پهلومړیوختو کی پوهاناوباالخصوص کیمیاپوهانوپدې باره کی کافی معلومات پخپل لاس کی نه درلودل. نوپهدغه اساس یو زیات شمېر پوهانو دماکس پلانك د نظریاتو سره مخالفت وکړ اود سرکښی لاره ئی غوره کړه . دې مخالفتو اوسرکښیو بیاهم ماکس پلانك د خپل تعمیم څخه نه وګرزاوه اونهئی دتفکرقیضه دلاسهورکړل نوئی تجویزونیوی چی یوکتاب دی پههمدې باره کی ولیکی اودامریکائی پوهانو پر نظریاتو باندی رڼا واچوی .

ماکس پلانك پنځه کاله وروسته یعنی پـه ۱۹۵۶ کال کی بریالی شـو چی د ټولو پوهـانـو نظریات او عقائـد په دې موضوع کی وخپل ځان تهراوګرزوی اوجلب کړی .

ټولی ژبې یو

ډول الفبا اوتوری لری

داسی امکان لری چی ځینی تصور اوفکر وکړی چی په هره ژبه کی توری (حروف) مساوی دی مګر داسی نهده لکهچی (دری) پنځه څلویښت توری، عربی اتهویشت توری، انګلیسی اوهالینډی هـره پـوه شپږویشت توری، ایټالوی اوه ویشت تـوری یونانی څلویښت تـوری ، اسلاوی څلو یښت تو ر ی ، قیطی دوديرش توری، فرانسوی پنځهویشت تور ی لری او چینائی ژبهالفبانهلریاو دهغه په عوض تقریباً شل زرهشکلونه اوسیلابونه په خپل لیك او لیـکنه کښی استعمالـوی .

خورالیری ستوری

شکلو کی نومی روسی ستو ر ی پیژ ند و نکی د مځکی له کرې څخهیوخورا لیریستوری کشف کړ .

دا ستوری زموږ څخه دلسوملیار ډونوری کلونو پهفاصله لیریواقعدی او پهپوه ثانیه کی دمځکی له کرې څخهد(۱۶۵)زروکیلو متروپهسرعت لیری کیږی .

مځکه په څه شکل ده

(د ۱۲ مخ پاته برخه)

دخپلې صحیح غوښتنې څه چې دخانه نشین سره ئې په هغه کې بحث کاوه تردې اندازې خوشحاله شو چې خپل حرکت ئې ښه تیز کړ او درې میاشتې دمخه ترمعینې وعدې وخپل د کښینستو کلې ته را وګرځید .

نړۍ نه ګرزیدونکې په دغه ټوله موده واور ته به ناست و او په هغه خوا چې نړۍ ګرزیدونکې تللې ؤ او په هغه ځای کې چې دده دستر ګو نهام شوی ؤ ناست ډېر غمګین او همېشه به ئې ژړل .

لومړی امیدواره ؤ چې رفیق ئې راسې پسله یوڅو مودې مایوسه او ناامیده شو .

نړۍ نه ګرزیدونکې به هره ورځ په فکر کې دا تکرار و ل چې : (پوهیږم چې نړۍ ګرزیدونکې دمځکې څه و آسمان ته ولېدلې دی) .

آمانړۍ ګرزیدونکې په پوره صحت سلامتۍ او کامیابۍ بیرته وخپل کور ته راغی .

رشتیاهم پرهغه لارچې کلې ئې پرایښې و نه پرېله لارو کلې ته راغی ، هغه وخت نونړۍ نه ګرزیدونکې داومنله چې مځکه ګردې اود کړې په شکل ده او خلک کولای شی چې د مځکې پرمخ ژوندو کړې چې پښې ئې یودبل وخواته اوسرونه ئې په مخالفو خواوکې واقع دی ، اود خپل کلې نوم ئې واړاوه اود (لوړې مځکې) دنامه پرځای ئې داسې نوم پر کښېښود لکه دنورو کلو .

اوس نو کومه برخه ددې قصې حقیقې او کومه برخه ئې خیالې ده ؟

حقیقت هم دادی چې مځکه دکرې په شکل اوګردې ده که دختیځې خواته ولاړشې او خپلې مخامخ لارې ته ادامه پسې ورکړې آخرهم وهغې نقطې ته رسیږې چې حرکت موځنې کړې وی خودلویځې خوابه هم هغې نقطې ته ورسیږې .

برسیره پردې نکتې باندې چې پخوانیو خلکو داتصور کوله چې د مځکې پرلوړه سطحه ژوند کیږی اودغه رنګه ئې که وکښتې برخې ته ورشې نوډېرخطرونه ئې تهدیدوی دغه ډول حقیقت نه دی .

یو لیکونکې چې (لاکتانیتوس) نومیږی داسې نوشته کوی .

(آیا ممکنه ده چې یو هوښیار انسان دغه بې علمانه تصورقبول کړی چې دنړۍ دکرې په ډوه نقطه کې انسانان چپه ولاړشی یعنې سرونه ئې دمځکې وخواته اوپښې ئې د آسمان وخواته وی اوهلته وابنه او درختې نسکوره شنه شی اوباران اوژلې دپورته دخوا واوری)

که زموږ دپوه نړۍ ګرزیدونکې په توبره کې دلاکتانتیوس کتاب وی اود فراغت په وخت کې هغه ووائی . نو دی به کله چې دخپل کلې ومقابلې نقطې ته دنړۍ په هغه بله خوا کې ورسیږی نودی به حتماً دکتاب پرلیکونکې باندې وخاندی . برسیره پردې چې لاکتانیتیوس لیکونکې ؤ هغه د بې عقلو خلکو څخه وحشت او بیره درلوده .

نوزموږ نړۍ ګرزیدونکې بیشکه دخپله ځانه سره دا وایو :

که لاکتانتیس په خپله مسافرت او نړۍ ګښتې کړې وای البته دا شیان به ئې نه نوشته کوله .

پدغه وخت کی زه اونړی ګرزیدونکی په دوومقابلو نقطو کی ولاړیو او په دغه وخت کی زموږ دواړو سرونه د آسمان وخواته او پښی مو دمځکی وخواته دی. دغه ډول ونی هم په دغه اوهم په هغه ځای کی په یوه ډول شنه کیږی

اوددوی ریښی په مځکه کی ننوتلی تنی اوښاخلی ئې دمځکی څه دباندی راوتلی دی.

دغه ډول باران اوژلی هم دوریځی څه مځکی ته راتوئیږی، که یو څوك قدرت دفکر کولو ولری په آسانی سره متوجه کیدای شی

چی غیر له دغه څه بل شی نه شی کیدای که مځکه ګردی وی خلك دهغی پرمخ باندی د هغو میږیانو وضعیت لری چی د هندوانی پرمخ باندی ځی.

آیا کومه برخه ددې قصی خیالبافی ده؟ یوازی دغه برخه د خیال زیږید نه ده

چی لمړنی سفر دمځکی پرشا وخوا باندی د دریاب له لاری څه په ډېر زحمت اوتکلیف پای ته ورسیدی.

دادی تاسی ته موویل چی دمځکی پرشا خوا باندی مسافرت څنګه پای ته ورسیدی

آما لومړی راسی چی دتاریخ یو څو ورقی را واړوو.

دغه نقل دعلم او جهل په مابین کی یو جنګ دی اودهغو قهرمانانو اوشهیدانو سوانح ده چی دعلم اونجوم په لاره کی ئې د هیڅ ډول

کوښښ زحمت او حتی دخلکو په مابین کی دحقیقت او د هغه د نشریدو په لاره کی د

هیڅ ډول قربانی څه سرندی غړولی دا دی تاسی ته موبیان کړل.

(پای)

داستان

د سپینو زرو قندانی.

(رابرټ دال رون) د امریکا یو پخوانی پوهاند لیکی:

یوه ځوانه نجلی چی ډېره پوه، تحصیل ئې کړی، اودنیویارك دیوې معتبری کورنی څخه وه، یوه ورځ له خپل ښار څخه دخپلی عمه کره چی کورنې ترښار دباندی ؤ دخو ورځو هواخوری د پاره ولاړه پدې ځای کی پخوانی کورونه ډېر، خو په دغه کور کی

یواطاق هم ؤ چی په هغه کی چندانی څوك نه اوسېدل، زیاتره به ئې دروازه تړلې او ویل کېده به چی پددغه اطاق کی د ډېر ارواح حاضر اوپېریانان لری.

دغه نجلی دوې، درې ورځی دخپلی عمه کره وه چی ناڅاپه هلته نورمېلمانه هم راغلی

اوچی موجودی خونی ټولی ډکی شولې نو عمه ئې خپلی ورېرې ته وویل: په ځان کی دومره جرئت وینی چی خپل اطاق مېلمنو ته ورخوشی اوته هغه درانه اطاق ته ولاړه شی؟

ورېرې ئې هم دعمه خبره منلې اووئې ویل چی: زه له پېریانانو څخه نه بیریږم اونه دمړو په ارواحانو کی ری وهم.

شپه شوه اوهغه باجرئته نجلی په بېغمه زړه اوبېله کوم وهمه هلته بیده شوه، چی شپه پخه شوه، نجلی له خوبه وینه او وئې لېدل چی د یوې زړې ښځی سایه چی په پخوانی طرز

ئې دنوکری کالی اغوستی دی اطاق ته راغله، لومړی ئې کومه بېره حس نه کړه ځکه ددې ګمان شو چی دعمه د کور یوه نوکره ئې ده او کار به لری.

لیکن ترڅه فکر کولو وروسته ئې ورپه یاد شوه چې تر بیدبدو دمخه خو مې د اطاق دروازه وتړله، سره لړزېدلې او وبېرېده، او خاص بیا هغه وخت ډېره وبېرېده چې هغه سایه ودې ته نژدې شوې او سرئې ورکښته کړ چې خبرې ورسره وکړي، لیکن ژبې ئې کومك نه کاوه او بوغ ئې له خولې نه راوت. پدې وخت کې بېرې زیاته غلبه پرکړې، او بې اختیاره ئې پرسر تلتك راکش کړ. لیکن څه ګړې وروسته ئې سر له تلتکه را ایستلې چې وئې کتل څوك نسته، نو ژر له ځایه پورته دروازې ته ورغله که ئې کتل، دروازه لکه څنګه چې وه تړلې وه همغسې بنده او هیڅ لاس نه دی ورو ړه شوی.

له دې پېښې څخه څه وخت تیر شو، او کله چې نجلۍ دخپل پلار کره وه هلته یوه شپه چې کور بنځې او نورې مېلمنې هم سره ناستې وې ناڅاپه د دوی په منځ کې د پوې ناشناخته بنځې سایه ښکاره شوه له حاضرینو څخه چې زیاتره ئې پخې بنځې وې، تر هغه ګړیه نه داسې شی لېدلی او نه ئې په هغسې بڼه څوك پېژانده، لیکن هغې سایې پخپله خپل ځان معرفي کړ او داسې ئې وویل چې:

چې زما نوم (ساراکلارك) او زه په پخوا وختو کې د دغې نجلۍ د عمه د کور نوکره، او څه وخت د مخه چې دغه نجلۍ د خپلې عمه کره صحرا ته تللې وه یوه شپه مې ځان ورته حاضر، او قصد مې کړی و چې دغه نجلۍ خپلې عمه (زما پخوانې بادارې ته) لدې امله چې زما څخه پخوا په هغه کور کې څه ګناوې شوې وې واسطه او پر خپلو ګناو بخښنه ځینې وغواړم.

لیکن ژبه مې بنده، بنده شوې، هر څومره چې مې کوښښ وکړ چې اصلي مطلب ښکاره کړم موفقه نه شوم. دغه د پښېمانۍ او د ګناو بخښنې حس په ما کې دومره زیات شوی دی چې تر اوسه نا آرامه، او هر ګړی مې زجر او عذاب دې ته مجبور وی چې هغه کور ته چې په ژوندونې هلته پکښې اوسیدم یوه وسیله پیدا کړم.

ګناه مې داده هغه وخت چې زه نوکره وم دسپینوزر وقندانۍ او ځینې نور شیان مې چې نومونه به ئې ذکر کړم دغلا په صورت وړې دی اوس څرنګه چې بنایي له خپل هغه کردار څخه پښېمانه او په ډېر تکلیف اخته یم، زه به ډېره خوښه او ممنونه شم که د غه نجلۍ زما په باره کې له خپلې عمه څخه یوه بخښنه را وغواړی څو آرامه شم، شیان ئې یو، یو ذکر کړ او یادداښت ئې واخیسته شو.

تردې وروسته کله چې نجلۍ د لومړی پلاد پاره د خپلې عمه سره ولېدل، د خبرو په ضمن کې ئې له عمه څخه پوښتنه وکړه آیا یو وخت تاسې داسې نوکره چې نوم ئې (ساراکلارك) وی درلوده؟

عمه ئې ورته وویل چې:

هو! تقریباً ۳۰ یا ۴۰ کاله دمخه د ا زموږ نوکره وه.

نجلۍ: دا څرنګه بنځه وه؟

عمه: ډېره معقوله او پاکه بنځه وه.

نجلۍ: کله چې هغه دلته نوکره وه آیا پدې کور کې مو دسپینوزرو یوشی نه ګوم شوی؟

(نور به ۲۷ مخ کې)

افغانی کوچیان

بناغلی لیلیزی

افغانی کوچیان چی زیاتره برخه ئی په پښتنی کوچیانو مشهور دی د هغو آریائی ټبرونو څخه دی چی په زړو کتابو او افسانو کی دوی د پخد پکت او پښت په نامه یاد شویدی او د ډیری پخوا زمانی راهیسی د ځنو مؤرخینو په عقیده د میلاد پنځه او اوه زره کاله دمخه د پښتونخوا په بیلو سیمو کی اوسیدل .

د دغو کوچیانو مشهور خیلو نه اوزی، د لودیانو، اتوالو، خوازکو، د پتانو، خروټو، ترکو ناصرو، اندړو، سلیمانخیلو او داسی نورو څخه عبارت دی څرنګه چی زموږ هیواد جګ غرونه بهاند سیندونه او لوئی بیدیاوی لری نو د دوی د څرګایونه هم سره ویشل شویدی په هغو سیمو کی چی د زراعت او کرهنی د پاره امکانات نه وی او او به غیر له بارانه په بل ډول ور رسیدلای نه شی کوچیان په دغو سیمو کی په آزاد ډول تګ او راتګ کولای شی خو هغه سیمی چی جلګی او علف چرونه او دغرولمنی لری دغه سیمی د دوی په منځ کی کی په ګومونو باندی ویشل شویدی او کله چی کال خراب او شنلی د دوی د حیوانا تو د پاره په کافی اندازه نه موندل کیږی نو د دې لاری څخه دوی په مشکلاتو اخته وی او د پوې او بلی قبیلی د سیمو د اوښتلو په واسطه د دوی په منځ کی لوی جنجالونه او مسایل پیښیږی د افغانی کوچیانو د کوچیدلو ساحه پخوا ډیره پراخه او مناسبه وه او دوی د لوئی پښتونخوا هر و سیمو ته په آزادانه ډول تګ او راتګ کولای شوای خو پسدې وروسته کلوکی د ځنو سیاسی لانجو له کبله د دوی په لیږدیدلو باندی قیود او شروط ایښودل شویدی . د پلټونکو او ټورستانو څخه چی تر اوسه د کوچیانو په خصوص کی څه معلومات لاس ته راغلی دی دوی په یوه ډول داوائی چی دافریقی د شمالی سیمو، د اتلس د ځنګلو او لمنو، منځنی ختیځ او آسټرلیا د کوچیانو د ژوندانه حالات ډیر توپیر نه مرلری د دوی د ژوندانه وضع د حیوانانو په رانیولو او خرڅولو باندی بناده د کرهنی په چارونه پوهیږی او هغه چی د متمدنو او یا مترقی ملتونو د څنګه او سیږی هغوی تل خپل اومه مواد لکه وړی، پوستونه، غوړی او نور مال پر هغوی پلوری او په مقابل کی ئې جنس او او بدلی ټوکران ځنی اخلی چی دغه بیا د کاونډیو هیوادونو په سر حد و نو کی پلوری چی د داسی تجارت کولو په واسطه اوس دوی زیاتره شتمنی او ښه مالی استعدادونه لری .

د افغانی کوچیانو زیاتره لوی تجارتی بازارونه د کلات او

شاجوی سیمی اود پکتیا تنگی
دی ددې نه پرته ځنی افغانی
کوچیان شته چی هغوته موږ نیم
کوچیان هم ویلای شو دوی د خپلو

مینو څخه ډېر لیری نه ځی د
کال زیاتره برخه دوی په کیږدیو
کی اوسی خو په ژمی کی بیرته
خپلو کورونو ته ستنیږی دوی په

مالداری اوځارو روزلو زیاتره
اخته وی او که کال ښه او حاصل
خیزه وی په کرهنه هم کله لاس

پوری کوی، یعنی مالداری او
کرهنه ئې سره ګډه کړی وی د دغو
ډولو کوچیانو نمونی موږ د
افغانستان په جنوب لویدیځو

سیمو کی زیات لیدلای شو چی
هغه د نورزو، اسحاق زو بارکزو

اچکزو او داسی نورو ټبرونو
څخه عبارت دی .

(کلومس فر دیناند) چی د
افغانی کوچیانو پـه خصوص
کی مفصله مقاله لیکلی ده دیو
لړ څیړنو وروسته وایی :

چی په نړۍ کی کوچیان په
بیلو، بیلو ډولونو کږ د یو کی
اوسیږی دلیمځی ګردی کیږدی

او خرګاه چی په منځنی آسیا
کی پیدا کیږی او توری ګیږدی
چی په منځنی اونژدی ختیځ کی

کارځنـی اخستل کیږ ی همدا
شانی په تبت کی یو ډول کیږدی

پیدا کیږی چی د نژدی ختیځ د
کیږدیو سره اړیکه لری او دا به له
دې کبله وی چی تورو کږدیو
پخوا د ختیځ او لویدیځ ترکستان
په شمول په لویو سیمو کی رواج
درلود د تاریخی منابعو څخه
معلومیږی چی هندوارو پائیان
د افغانستان څخه ختیځ خوا ته
خپاره شول چی د چین د سرحدونو
او کانی ولایت پوری ورسیدل دا
کورد وه زره کاله د مخه د هن د
کورنی د مشر تا به زمانه وه همدا
شانی توری کږدی پخوا لدې چی
په ختیځ کی استعمال شی موجودی
وی ځکه نو امکان لری چی هندو
اروپائیان د تورو کږدیو او سید-
ونکی وه د ارابط د ترکانو او
مغولانو له یرغل څخه وروسته
وشلیدله او دوی په پخوازمانه
کی د تهذیب له کبله تبت له نژدی
کړ وروسته بیا د انژدیوالی له
منځه ولاړ او هغه د ترکانو او مغولو
د یرغلونو له امله ؤ چی هندو
اروپائیان ئې له منځنی آسیا نه
ویستل تولدې امله د دوی په دغو
سیمو کی یوازی د کراستی ګردی
کږدی پیدا کیږی او داسی څر-
ګندیږی چی په منځنی آسیا کی
کی توری کږدی نسبت خرګاؤ ته
پخوانی دی دغه محقق وایی په
افغانستان کی د کږدیو د ری ډولونه
سته د ختیځ افغانستان دغلجیانو ،
د افغانستان په جنوبی او شرقی
کی د درانیانو او دغور د خلکو .

د ژوندون مجلی څخه

(د ۲۵ مخ پاته برخه)

دسپینوزرو قندانی

عمه : لږ څه فکر کـړی
وئې ویل : په زړه کی مـی
راګرزی چی دسپینو زرو
قندانی او ځنی نورشیان
غلا شوی وه .

نجلی : آیا ستا زړه نه
درته ویل چی دغه شیان دی
(سارا کلارک) وړی وه؟ .

عمه : یه . هغه د ومره ښه
ښځه وه چی په هیڅ صورت
ممکن نه ده چی د دغسی کارو
نسبت هغې ته وشی .

وروسته نو نجلی یعنی
ورېږې ئې ټول تفصیلات
ورته بیان، او دوړ کوشیانو
هغه یادانبت چی په خاطر
کی ئې ؤ ورته ووایه، آخر
عمه ئې د نجلی د شـفاعت
سره سم د نوکری له ګناهو
څخه ورتیره شوی او وئې ویل ؟

وختی چی هغی داسی
کار کړیدی نوزه ترخپلو
شیانو ور تیره او بخښښ
ورته کوم .

تردغی ورځی وروسته
هغه د عمه د کورخونـه د
نوروخو نو په شان د ګذاری
شوی، او هلته بیا نه چا پیری
لیدلی، او نه د کومو مړو
ارواح ولیده شو .

د (نیازی) ژباړه
(پای)

پیاوړی او مسعودی ټولنی

هغه جامعه پیاوړی نه ده چی د نفوس له نظره ډېره او په کثرت کی واقع ده .

ستره ټولنه هغه نه ده چی د ارضی مساحی له مخی

پراختیا او وسعت ولری یوائی ستر کام او مسعود خلک هغه نه دی چی بنا رونه ئی په فابریکو بنکلو بنکلو

صناعتی موسسو او حاصل خیزو منابعو سمسور شوی وی .

په هغی جامعی کی خیر نشته چی وګړی ئی لکه بی روح او بی ارادی ابزار دهرچا شومی اود اغراضه

ډکی آرزوګانی پر ځای کوی .

هغه لوی خلک نه دی چی د پلرو او نیکونو په کار نامو ویاړی او خپل ژوند په طفیلی ډول تیروی .

ستره جامعه هغه ده چی هلته پلار زوی ته د ایمان داری او شهامت اخلاص او امانت مېړانی شجاعت حلم او دیانت درس ورکوی .

هلته مور وخپل زوی ته د زانګو څخه رانپولی بیا د عقل تر رشد او کمال

پوری د وطن پرستی نوع پروری د باطلو او ناروا

سره د مجادلی او د بینوا او لوېدلی سره د مرستی او تعاون د فاسد او خطاکار څخه د بیزاری اود خپل ولس د پاره د منفعت او

خدمت تعلیمات ورياد وی .

هلته چی د خوار او غریب سره همدردی او غم شریکی کیږی .

هلته چی دروغ ویل او خطا ایستل کورټ وجودنه

لری هلته چی بی پرسی او بازخواستی د ټولو بلاوو او خراب کار یو منشاء بولی .

هغه چی ټوله په ټول قوت د نفاق دواوئی د ته اوزه د کلماتو

د حذف کولو په لټه کی دی هلته چی د بشری او انسانی کرامت د د مقام ساتل د هرچا وحقوقو ته

احترام کول د مضرو عناصرو د امیالو سره مجادله کول د هغه ځای د خلکو آخرنی او وروستی آرزو ده .

هلته چی د رشوت خورو او ظالمانو، د قانون څخه د منحرفینو او متجاوزو کسانو د

اجتماعی عدالت او د خلکو د اسایش او رفاهیت د بنمنانو سره

اخلاقی جدی مبارزه پر مخ روانه ده .

هلته چی بی علمه او ناپوهان تر هرڅه د مخه د سعادت او سمی

لاری د مینداو په هکله د پوهانو او عالمانو او مشرانو څخه مشوره او استمداد غواړی ستر

خلک دی او هغه پیاوړی او مسعوده جامعه ده .

نظام الدین (برکی وال)